مریم ناصحي
ژباړه: فرهاد ویاړ

(ځلورمه او وروستی برخه)

## ويکتور خارا، د انقلاب سندرغاړی

د ۲۰۰۴ کال په دسمبر میاشت کې، له کلونو وروسته، د ويکتور خارا د وژنې دوسیه د يو چيليايي قاضي لخوا پرانيستل شوه. له هغې تر اوسه، د ځينې عيني شاهدانو د شهادت سره سم، د ويکتور قاتل پيژندل شوی دی. ادوين ديمتر بيانچي، د کودتا جلاد او د چيلي د پوځ يو افسر، د ويرونکي شهرت سره، د چيلي خلکو د محبوب او انقلابي ترانه ويونکي قاتل و. د اعلام شويو شواهدو له مخې، هغه په ۱۹۷۰ کال کې پانامه ته سفر کړی و او په پوځي ښوونځي کې چې د امريکا لخوا اداره کیده او د لاتيني امريکا پر پراخو پوځونو يې نظارت درلود، پوځي زده کړې پای ته رسولې وې. په دې مرکز کې د چيلي پوځ ټولو زده کړيالانو، د چيلي په کودتا او د خلکو په نابودۍ کې ګډون درلود. ادوين ديمتر بيانچي چې «ال لوکو ديمتر» هم نوميدو، مخکې له دې هم د سالوادور آلنده په ضد په يوې نابريالی کودتا کې ګډون کړی و. خو هغه او ملګري چې له دې ناکامې کودتا وروسته ونيول شول او زنداني کړای شول، ډير ژر خوشې شول چې په راتلونکي کودتا او د خلکو په وژنه کې خپل رول تر سره کړي. د «ويکتور خارا» لوبغالي څخه د ژوندي پاتي شويو زندانيانو په وينا هغه هومره د انقلاب او مبارزې په اړه د کرکې او قهر څخه ډک و چې ډير ژر د زيات شمير زندانيانو تر منځ په «ساديزمي» معروف شو. د دې مسما لقب سربيره، په خپله هغه خوښ درلود چې «پرنس» يا «شازاده» هم ونومول شي. بوريس نويا، چيليايي وکيل، د کودتا د دې جلاد قهر او کرکه داسې انځوروي: «هغه د لوبغالي په بيلابيلو ځايونو کې په ناڅاپي توګه راڅرګنديدو او په وحشت او هيبت سره يې زندانيان ډارول. هغه کټ مټ د يو وحشي او ناهيلي لوبغاړي رول لوبو، چې زندانيان بنايي د هغې په شتون کې په بشپړه توګه چوپ او سرټيټي وي. په لاس کې يې د څرمنې دره درلوده او د هغو زندانيانو، چې د ساعتونو لپاره په ګونډو ناست وو تر منځ د قدم وهلو پر مهال يې هغوی پر سر او مخ وهل.» د هغې په اړه دا ډول هم ويل کيږي چې د زندانيانو د کتار مخې ته ودريدو او چيغې يې وهلې: «زما غږ اورئ چټلو مارکسيستانو؟ ما ته په ډار سره وګورئ، حرمونو، اوس ستاسو د وينا وخت پای ته رسيدلی، يا بايد موږ سره کار وکړئ او يا بايد تاسو اعدام کړو. زما غږ اورئ؟ دا غږ چې اورئ د پرنس غږ دی.»

د کودتا پرنس، چې د ډيرو شواهدو له مخې د زندانيانو په شکنجې او وژنې کې په نيغه لاس درلود، هيڅکله په رسمي توګه په يوې محکمې کې محکوم نشو او په ناڅرګنده دليل د ۱۹۷۶ کال په دسمبر کې د چيلي له پوځ تقاعد ورکړای شو. وروسته له هغې يې د حسابدارۍ په رشته کې زده کړې وکړې او د پوځ د تقاعد او ځارنې په برخې کې په کار وګمارل شو. دا هم د حيرانتيا وړ ده چې هغه د هغو امتيازاتو څخه چې د پينوشې د ديکتاتورۍ پر مهال د قانون پر بنسټ د بشري حقوقو د حمايت قربانيانو لپاره تصويب شوی و، ګټه اخيستله. دا قانون په واقعيت کې د هغو کسانو د حمايت لپاره تصويب شوی و چې د پوځي ديکتاتورۍ پر مهال د سياسي کړنو له امله له خپل کار څخه ليرې کړای شوي وو، بيا نه استخداميدل او يا هم د تقاعد حقوق يې لاس ته نه راوړل. د کودتا جلاد د دې قانون له امله، د ۲۰۰۰ کال له جولای څخه د کودتا او پوځي ديکتاتورۍ د قربانيانو له مزاياو څخه ګټه اخيستله.

سره له دې چې څو کلونه د «پرنس» له پيژندنې تيريږي او د هغې هويت ښکاره شوی دی او په چيلي کې سياسي فعالينو آن د هغه عکس او پته او د تلفن شميره خپاره کړي دي، خو د ويکتور خارا او د هغو دوزخي ورځو د نورو زندانيانو د وژنې له امله د نوموړي د محاکمې زمينه برابره شي، خو د چيلي نوې دولت دې جنايت ته د رسيدنې لپاره لا ليوالتيا نه ده ښودلې.

عجيبه دنيا ده. د «پرنس» او د هغه د ښکاره او پټو پلويانو سپکه دنيا او د «انقلاب د ترانه ويونکي» او د کارګرو او محرومو خلکو چې هغه ورته ترانې ويلې او ليکلې، پرتمينه دنيا. دوه بيلابيلې دنياوې په يوه دنيا کې. ښوالی د بدې په

مقابل کې، کار او زیار د شتمنۍ او زېبیناک په مقابل کې، انقلاب د ضد انقلاب په مقابل کې! په دې عجیبه دنیا کې، وروستۍ برۍ د هغو کسانو سره دی چې دا دنیا یې پر خپلو اوږو نیولې ده؛ د ویکتور سره چې یوازې یې یو ګیتار درلود او یو ټیپي ګوګل او کارګرانو او محرمو خلکو ته له مینې ډک زړه؛ د ویکتور، د سانتیاګو ښار د ځنډې بیوزله کارګر مانوئل او د آماندا زوي سره، چې له ماشومتوب څخه یې خپل زړه د مور للوللو ته سپاره چې د کارګرو او بیوزلو خلکو له غمونو او رنځونو ډک و او پر کوچني زړه یې لکه چاړه لګیده او هغه یې د همدې خلکو د دفاع په موخه راتلونکو جګړو ته چمتو کاوه. په دې عجیبه دنیا کې، ویکتور دی، چې ژوندی پاتې کیږي او فریاد یې د تاریخ تر پای پورې په بشري وجدان کې انګازې جوړوي او «پرنس» دی چې له تلپاتې کرکې او نفرت څخه بل څه نه ورپه برخه کیږي.

*　　　*　　　*

دښمن خپله پښه د میرني پر سر اېښودې وه او پر مات شوي ګیتار یې زور کاوه او چیغې یې وهلې:« اوس یې وغږوه! اوس یې ووایه!» ویکتور مات لاسونه پر ځمکې اوږده او خپل مات شوي ګیتار ته ورسول. ګیتار یې په ځنګل کې ونیو... په ویلو یې پیل وکړ. ګواکې چې د ټولې چیلې آواز یې په غږ کې راټول شوی وي. لوبغالی، او شاید هم ټوله نړۍ، د یوې شیبې لپاره له حرکته ودریده... او بیا لوبغالی او شاید هم ټولې نړۍ د ویکتور سره ترانه پیل کړه... غلیمان په ویره شول. داسې یې تمه نه درلوده. نه پوهیدل چې څنګه ویکتور کولای شي ترانه ووایه هغه هم په مات شویو لاسونو او شکنجې شوي ځان سره... بیا یې په قهر او غضب سره چیغې کړې: سرتیرو چمتو، هدف!... خو خارا لا ترانه ویله او لوبغالي، شاید ټوله نړۍ له هغې سره سم ترانه ویله... سرتیرو چمتو، هدف!... لمر د «ویکتور خارا» په لوبغالي کې راپورته کیږي او خپلې وړانګې د ویکتور پر لړندې، خو هیله مندې څېرې اچوي.... سرتیرو ډزې! څلوردیرش مرمۍ، څلور دیرش مرمۍ د میرني پر تن ووریدلې... ویکتور پر ځمکې ولوید، سره او توده وینه یې پر ځمکې تویه شوه... خو د خارا د ترانې غږ لا غوږونو ته رارسیږي....

**شعر هغه کوتره ده چې د ځالې په لټه کې ده**
**خوشې کیږي، وزرې وهي څو والوزي**
**والوزي!**
**زما غږ،، آزاده او خپلواکه غږ دی**
**او هغه چا ته دالۍ کیږي چې پاڅیدلی**
**هغه چا ته چې د ابدیت لوړوالی ته د الوتنې هوډ لري**
**زما آواز هغه ځنځیر دی**
**چې نه پیل لري او نه هم پای**
**زما په آواز کې به ټول خلک پیدا کړی**
**پریږده چې له یو بل سره**
**د ولس سرودنه ووایو**
**ځکه چې آواز هغه کوتره ده**
**چې سیند ته د رسیدلو لپاره الوزي**
**خوشې کیږي، وزرې وهي څو والوزي**
**والوزي!**
**والوزي!**

دا هم د انقلابي سندرغاړي ویکتور خارا د څو ترانو متن:

## مانیفست

**(لومړی ژباړه)**

نه د ویلو لپاره دی چې وایم
او یا دا چې ښه غږ لرم
د دې لپاره یې وایم
چې ګیتار
احساس لري او سم فکر کوي
په ځمکه کې زړه لري
او د کوترې په شان ځانګونه
لکه اوبه سپیڅلی دی
او ویر او ښادي ته سپیڅلتیا بخښي
زما ترانه،
څنګه چې ویولتا ویل،
دلته راورسیده
د کارګر ګیتار
له پسرلني عطرونو سره.

زما ګیتار
د شتمنو او د داسې وړو شیانو ګیتار نه دی
زما ترانه
د ودانۍ د اړاني هغه پوړی ده
چې یې جوړو
څو ستورو ته ورسیږو

ترانه
کله چې په رګونو کې
د هغه چا په تن کې چې د مرګ پر مهال یې
زمزمه کوي
جریان ومومي
خپل مفهوم لري:
واقعي حقیقتونه
نه غولونکي لمانځنې
یا پردې هڅونې
ترانه
د ځمکې په ژوروالي کې
چیرې چې ټول شیان به هلته ورسیږي
او هر څه له هغې سرچینه اخلي
قناري ده

هغه ترانه چې زړوره وي
تل به نوې ترانه وي
تل به نوې ترانه وي
تل به نوې ترانه وي.

## مانیفست

(دویمه ژباړه)

نه د ویلو لپاره دی چې وایم
او نه د خپل غږ د عرضه کولو لپاره
نه،
زه هغه شعر د آواز سره وایم چې
زما له احساسه ډک ګیتار غږوي
ځکه چې دا ګیتار ځمکنی زړه لري
او مارغه ډوله د الوتنې په حال کې دی
او لکه مقدسې اوبه
میړني او شهیدان په مهر او مهربانی کې پریمنځي
نو زما ترانه
څرنګه چې ویولتا ویل
اوس یې هدف موندلی دی
هو،
زما ګیتار کارګر دی
چې له سپرلي ځلیږي
او د عطرونو وږمه شیندي
زما ګیتار
د جنایتکارو دولتمنو په کار نه راځي
چې د زر او زور حریصان دي
زما ګیتار
د زیارکښانو او ولسونو په کاریږي
چې په سرود سره یې
راتلونکی وغړیږي
ځکه چې ترانه هغه وخت معنی پیدا کوي
چې زړه یې په ځواکمنه توګه تپاند وي
او داسې انسان هغه ترانه ووایي
چې زمزمه پر شونډو شهادت ومني
زما شعر د هیڅ چا په مدحه کې نه دی
زه شعر نه وایم چې پردي وژاړي
زه د خپل ټاټوبي کوچنې او لیرې برخې ته شعر وایم
که څه هم یوه کوچنې تراړه ده
خو ژوروالی یې پای نلري
زما شعر
د هر شي پیلامه او پایله ده
د میړاني ډک شعر
تل ژوندی، تاند او هڅاند شعر.

## تا ته دې درناوی وي ای کارګره

پاخیږه، غرونو ته وګوره
د باد، لمر او اوبو سرچینې ته

ته چې د سيندونو لاره بدلوئ
ته چې د بذر په شيندلو سره، خپله اروا پرواز ته وړی
پاځيږه، لاسونه ته دې وګوره
لاسونه دې د خپل ورور په لاس کې کيږده، چې پياوړي شي
مونږ د يو بل سره په خپلو وينو کې متحد تللی شوو
نن، هماغه ورځ ده
چې مونږ د اربابانو د بند له ژغورنې ځخه
هغوی چې موږ په بدمرغی او بيوزلی کې غواړي
خپله راتلونکې جوړه کړو
خو د عدالت او برابرۍ ورځ به راورسيږي
چيغه کړه، لکه باد
لکه هغه باد چې د غرونو پر سر د وحشی ګلونو څخه تيريږي
د اور په شان، زما د توپک شپيلی پاکه کړه
بالاخره، هغوې دې چې په ګونډو به شي
د جګړې زړورتيا او ميړانه موږ ته ډالی کړه
چيغه کړه، لکه باد
لکه هغه باد چې د غرونو پر سر د وحشی ګلونو څخه تيريږي
د اور په شان، زما د توپکې شپيلی پاکه کړه
پاځيږه، لاسونه ته دې وګوره
لاسونه دې د خپل ورور په لاس کې کيږده، چې پياوړي شي
موږ د يو بل سره په خپلو وينو کې متحد تللی شوو
همدا نن
او تر مرګ پورې.

## ته مې په ياده يې، آماندا

(لومړی ژباړه)

ته مې په ياده يې، آماندا
په هغه واټ کې چې باران لمده کړی وي
او په بيړه کارخانې ته
چيرې چې مانوئل هلته دی
روانه يې.

تل خندانه يې
باران دې وېښته خيشت کړي

او هيڅ شئی درته اهميت نلري
يوازې دا چې ته مينه يې
ته مينه يې، ته مينه يې، ته مينه يې!

په څو نورو دقيقيو کې به د ژوند بشپړ شي
په څو نورو دقيقو کې به زنګونه په آواز شي
کار دی تا ته انتظار کوي
خو ستا د هر قدم سره
لمر شينډل کيږي،
او د څو دقيقو کې
ستا د بدن غنچې خلاصيږي.

ته مي په یاده یې، آماندا
په  هغه واټ کي چي باران لمده کړی وي
او په بیره کارخاني ته
چیرې چي مانوئل هلته دی
روانه یې.

تل خندانه یې
باران دي ویښته خیشت کړي
او هیڅ شئی درته اهمیت نلري
یوازې دا چي ته مینه یې
ته مینه یې، ته مینه یې، ته مینه یې، ته مینه یې!

هغه غر ته لاړ،
هغه چي هیڅکله له چا سره بد نه  دي کړي،
هغه غر ته لاړ،
او په څو دقیقو کي ټول شیان بدل شول.

اوس د زنګونو آوازونه پورته شوي،
کارخاني ته د ستیندو وخت رارسیدلی!
ډیر شمیر کسان هیڅکله راستانه نشول،
چي یو یې
مانوئل دی.

ته مي په یاده یې، آماندا،
په  هغه واټ کي چي باران لمده کړی وي
او په بیره کارخاني ته
چیرې چي مانوئل هلته دی
روانه یې.

## ته مي په یاده یې، آماندا
**(دویمه ژباړه)**

ته مي په یاده یې، آماندا
واټ لوند،
په منډه منډه د کارخاني لورې ته
چیرې چي مانوئل کار کاوه.

پر شونډو دي موسکا خپره
باران دي پر ویښتو،
هیڅ څه درته مهم نه وو،
تللي چي له هغه سره وګورې
له هغه سره، له هغه سره، له هغه سره، له هغه سره.

یوازې پنځه دقیقي دي
ژوند په پنځو دقیقو کي تلپاتی دی.
د کارخاني زنګ وهل کیږي

او کار ته ستنيدل بيا پيلېږي
او ته، ګام په ګام
پر ټولو رڼا شيندې،
هغه پنځه دقيقې تا غړوي.

ته مې په ياده يې، آماندا
واټ لوند،
په منډه منډه د کارخانې لورې ته
چيرې چې مانوئل کار کاوه.

پر شونډو دې موسکا خپره
باران دې پر ويښتو،
هيڅ څه درته مهم نه وو،
تللې چې له هغه سره وګورې
له هغه سره، له هغه سره، له هغه سره.

له هغه سره چې پر خاورې لېدلی،
چې هيڅکله يې زورول نه کول
چې پر خاورې لېدلی
او په پنځو دقيقو کې
نابود شوی دی.

د کارخانې زنګ وهل کيږي
او کار ته ستنيدل بيا پيلېږي،
ډير کسان نه راستيږي،
او مانوئل هم.

ته مې په ياده يې، آماندا
واټ لوند،
په منډه منډه د کارخانې لورې ته
چيرې چې مانوئل کار کاوه.

## ترانې، څه نيمګړې يې!

مونږ پنځه زره تنه يو،
چې د ښار په دې کوچنې څنډې کې سره راغونډ شوی يو.
مونږ پنځه زره تنه يو!
له زموږ څخه څومره د هيواد په دې څنډې او هغه څنډې کې شته؟

د انسانانو دومره زياته شميره
د ولږې، يخنې، ويرې او درد سره.
شپږ تنه مو له لاسه ورکړي،
د آسمان له ستورو سره يوځای شوي.
يو يې مړ شو، بل يې داسې ووهو
چې هيڅکله مې تصور نکوه چې وکړای شي يو څوک دا ډول ووهو

څلورو نورو یوازې غوښتل خپلې ویرې ته د پای ټکی کېږدي
یو یې د مرګ درې ته ولوید
بل یې خپل سر پر دیوال ووهو
خو ټولو په نیغه د مرګ سترګو ته کتلې.

مونږ لس زره لاسونه یو
هغه لاسونه چې نور کار نشي کولای
له مونږ څخه څومره د هیواد په دې ځنډې او هغه ځنډې کې شته؟

کومه وینه چې زمونږ له ملګرې ولسمشر نه تویه شوی
د بم او ټوپک څخه ډیر ځواک لري
د هغې د وینې سره زمونږ د ټولو د سوک ځواک
به یوه ورځ بیا راپورته شي.

تراني، څه نیمګړی یې!
کله چې له هر بل وخت اړ یم، چې ترانه ووایم، نشم ویلی
نشم ویلی، ځکه چې لا ژوندی یم
نشم، ځکه چې د ځنکدن په حال کې یم.

## د چیلي ستدیوم

دا د ویکتور خارا وروستی شعر دی. هغه دا شعر له وژل کیدو یوه ورځ مخکې د چیلي په لوبغالي کې ووایو. دا شعر بشپړ نه دی او آهنګ هم نلري. د یادونې وړ ده چې دا شعر د ویکتور خارا ولیکو او یو تن ملګري یې په خپل بوټ کې پټ او بیا یې د هغه میرمنې ته وسپارو.

مونږ دلته پنځه زره تنه یو،
دلته، د ښار په دې ځنډه کې
مونږ، پنځه زره تنه یو.
څومره کسان لکه مونږ
په ښارونو او ټول هیواد کې شته؟

مونږ لس زره لاسونه یو،
چې کري
چې د کارخانو ماشینونه په حرکت راولي،
دومره لوی شمیر انسانان
ولږې، ریپدلي
له غم سره، له درد سره، له اخلاقي فشار سره، له ویرې سره.

له مونږ څخه شپږ تنه د تل لپاره
ستورو سره یوځای شول
یو یې مړ شو،
یو یې داسې وهل او ډبول وخوړل
چې ما هیڅکله تصور نه کاوه
چې وکړای شو یو انسان داسې ووهو.
څلورو نورو
غوښتل تشې فضا ته په دانګلو سره،
او په دیوال باندې د خپل سر په وهلو سره،
له خپلې ویرې خلاص شي.
خو ټول، ټول هغه چې سترګې یې

د مرګ په لیدني سره
تورتمي شوی
په دی لټه کي دي
چي له خپلي ویرې خلاص شي.

د فاشیزم خیره خومره وحشت ایجادوي
هغوی خپلي نقشي
په ډیرې ځیرتیا سره پلي کوي
بی له دې چي څه ته اهمیت ورکړي.

وینه هغوی ته
مدال دی
او وژل
اتلوالي.

خدایه،
دا هغه دنیا ده
چي تا پیدا کړې؟
آیا د همدې لپاره دې
اوه ورځې کار وکړ او زیار دې وویست؟

د دې څلور دیوالونو تر منځ
یوازې یو څه دي چي خپګان نه زیږوي.
ورور، ورو مې د مرګ هیله کوله
خو ناڅاپه وجدان مې
ما راویښوي
او د بې ضربانه زړونو
خو د ماشینونو له ضربان سره یوه لویه څپه کورم
او پوځیان چي د خپلې مهربانی او احساس ډکې خیرې ځرګندوي
پریږدئ چي مکزیک او کوبا او نوله نړۍ
پر دې ننګین تیرې وژاړي.
مونږ لس زره تولیدونکي لاسونه یو
چي نور به تولید ونکړي
مونږ، په خپل هیواد کي
څو تنه یو؟

د ملګرې ولسمشر وینه
له بم او مردکې درنه
پر ځمکه تویږي
بیا به زمونږ موټي شوی لاسونه سوکونه ووهي!

آه، ترانې
څومره بدیږي!
کله چي باید تاسو ته له وحشت وغږیږم
هغه وحشت چي په کې ژوند کوم
هغه وحشت چي په کې مرم
هغه وحشت چي په دې نه ختمیدونکو شیبو کې
ځان په کې وینم
هغه وحشت چي په کې چوپتیا او فریاد د دې ترانې پای ده

هغه څه چي مي هيڅکله نه و ليدلي،
هغه څه چي مي حس کړي او حسوم
د خلاصون شيبې به له ځان سره راوړي....

## مينه

د خپل کور، ميرمني او ماشومانو سره مينه لرم
د هغي ځمکي سره مينه لرم چي د ژوند لپاره راسره مرسته کوي
د زده کړې او کار سره مينه لرم
د ټولو هغه کسانو سره چي خلکو ته په صداقت کار کوي، مينه لرم
د عدالت سره چي د انسان ستروالي ته د تساوي ابزار برابروي، مينه لرم.
له ژوند څخه د خوند اخيستلو لپاره د سولې او دوستۍ سره مينه لرم
د آزادۍ، خو د هغه آزادۍ سره چي د بل د آزادۍ په قرباني کولو سره لاسته نه وي راغلي، مينه لرم
د ټولو لپاره د آزادۍ سره مينه لرم
د ژوند لپاره، د ماشومانو د ژوند لپاره مي،
په هغه کور کي چي زما دی،
زما په ښار کي،
زما په مېنه کي،
د ګاونډيانو تر منځ د آزادۍ سره مينه لرم...
د آزادۍ سره په هغه چاپيريال کي چي د خپل برخليك جوړولو لپاره ورته اړتيا لرو، مينه لرم
له بندګۍ پرته، نه زموږ او نه هم د نورو لپاره،
د آزادۍ سره مينه لرم.

## د چه لپاره مرثيه

راغلي يم چي دا مرثيه ووايم
او آزادي غوښتني ته دوه چنده معنی ورکړم
هغوي جنګيالی ووژو
قوماندان چه ګوارا
ځنګلونه او دښتي او غرونه
مورني ټاټوبی يا محتومه مرينه
*
دا بشري حقوق
په ټوله لاتينه امريکا کي
تر پښو لاندي کيږي
هره يکشنبې، دوشنبې او سه شنبې
پوځ غواړي ښارونه تصرف کړي
او ديکتاتوران او قاتلان او پوځيانو او جنرالان
پر مونږ وتپي
*
هغوي پر بزګرانو او معدنچيانو او کارګرانو
ډزې کوي
خومره تريخ برخليك دی
ولږه، بدمرغي او درد
بوليوار لاره ونبوده

او چه ګوارا په هماغه لاره ولاړ
چې زموږ ښارونه د ظالمانو له واکمنتیا آزاد کړي
*
ارنستو چه ګوارا
*
چه ګوارا، کوبا وویاړله
چې یو آزاده تاتوبی شي
بولیویا، هم پر فداکارانه ژوند یې ژاړي
بزګران هغه د انځیر د ونې سپیلڅي ارنستو نوموي
*

ځنګلونه او دښتې او غرونه
مورنې تاتوبی یا محتومه مړینه

## د کار په لاره کې

ویکتور خارا دا شعر هغه وخت ووایو چې د روبرتو آهومادا په نامه یو کارګر ملګری یې په لاریون کې ووژل شو. ویکتور خارا په ښه ډول د روبرتو له ژوند سره آشنا و او هڅه یې وکړه چې دا عاشقانه شعر د هغه له پامه ووایې.

ته مې په فکر کې یې
د ښار د واټونو څخه د تیریدلو په وخت کې
ته مې په فکر کې یې.
کله چې خیرو ته ګورم
له هغو پنجرو څخه چې رڼا یې خرې نیولې
نه پوهیږم چې څوک دي او څه کوي
ته مې په فکر کې یې.
زما مینې، ته مې په فکر کې یې
زما د ژوند یارې
اوس او په راتلونکې کې،
د ژوندانه په ترخو او خوږو شیبو کې
کار د یوې کیسې له پیل څخه
بې د هغې د پای په پوهیدو.
کله چې د کار د ورځو پای رانژدې کیږي،
او سهار رارسیږي
پر هغو بامونو مو چې جوړ کړي
سیورې اوبه کیږي
بیا له کاره راستنیږو
خپل منځ کې بحث کوو
هر څوک د اوس او راتلونکې نه خپل دلیل وایي
ته مې په فکر کې یې
زما مینې، ته مې په فکر کې یې
زما د ژوند یارې
اوس او په راتلونکې کې
د ژوندانه په ترخو او خوږو شیبو کې
کار د یوې کیسې له پیل څخه
بې د هغې د پای په پوهیدو.
کله چې کور ته راځم،
ته هلته یې

او موږ د يو بل سره خپل خيالونه اوبدو.
کار د يوې کيسي له پيل څخه
بې د هغې د پای په پوهيدو.

## زمونږ ټاټوبی

پوښتنه مي دا ده:
هيڅکله مو فکر کړی چي دا ټاټوبی زمونږ دی
د هغه چا دی چي لويه برخه يې په اختيار کې لري
پوښتنه مي دا ده:
هيڅکله مو فکر کړی هغه لاسونه چي په دې ټاټوبي کې کار کوي زمونږ دي
او حاصل يې هم زمونږ دی
ديوالونه ويجاړ او ړنګ کړه
دا ټاټوبی زمونږ دی
پدرو او ماريا ته، خوان او خوزه ته
که آواز مي ځوروي څوک
که داسي څوک وي چي زما د آواز د اوريدلو توان نلري
ډاډهووسئ چي هغه يو يانکي دی
يا يو مالک او د هيواد لوي فيوډال دی
ديوالونه ړنګ کړه
ديوالونه ړنګ کړه.

## متحد ولسونه

متحد ولسونه به هيڅکله ماته ونخوري
متحد ولسونه به هيڅکله ماته ونخوري
پاڅيږه او ترانه ووايه، مونږ به بريالي شوو
د يووالي بيرغونه په رپيدو دي
او ته به لاريونونو کې له ما سره يوځای کيږی
نو خپله ترانه او له غوټيو جوړ  بيرغونه به وګوری
د سباوون سره رڼا
د ژوند د راتګ خبر ورکوي
پاڅيږه او مبارزه وکړه
ځکه چي ولسونه به بريالي شي
ژوند به په راتلونکي کې ښه وي
د نيکمرغی  د لاسته راوړلو لپاره
د زرګونو جنګياليو فريادونه به اوچت شي
ووايه، ترانه  د آزادی
د ارادي سره به هيواد بريالی شي
او راپاڅيدلي خلک په اوچت آواز فرياد کوي: مخ په وړاندې، مخ په وړاندې
متحد ولسونه به هيڅکله ماته ونخوري...

## د ولس توپانونه

هغوی چې له آزادی غرېږي
او تور لاسونه لري
بيا په لته کي دي چي هيواد مي
د کارګرانو په ويني سور کړي.
هغوی چي غواړي
مور له خپلو اولادونو جلا کړي
په لته کي دي چي بيا
هغه صليب جوړ کړي چي
مسيح پر اورو ليردوي
په لته کي دي چي هغه بدنامي پټه کړي
چي له پيريو يي له ځان سره راوړی ده
خو د قاتلانو رنګ
به له خيرو يي پاک نشي
او دوي زرګونه زره کسان وو
چي وينه يي ورکړه
او د سخاوتمندی په رود کي
دوډی په تساوی وويشله
اوس په هڅه کي يم چي ژوند وکړم
د خپل بچي او ورور تر څنګ
په هغه پسرلی کي چي ټول په هڅه کي يو
د وخت په تيريدو سره يي جوړ کړو
ګواښونه ما نه ويروي
ای د بدمرغی اربابانو!
د هيلي ستوری
به تل زمونږ وي.
د ولس توپانونه ما ځانته رابلي او له ځان سره مي وړي
د ولس توپانونه ما مخي ته بيايي
آن که زړه مي خيري خيري کړی
او پر ستوني مي زور کړی
شاعر به داسي ووايي
مرګ به څه وخت ما له ځان سره ويسي
د ولس په لاره روان
همدا اوس او د تل لپاره.

## هيله

لاسونه مي پر قولبي ايښي او څمکه وربانډي هواروم
کلونه دي چي له هغي سره ژوند کوم
ولي بايد ستومانه و نه وسم؟
پتنګان الوزي

ګونګوټی جیر جیر کوي
پوټکی می توریږي
او لمر یې سوځوي، سوځوي، سوځوي
خوله زما وجود توګي او زه ځمکه توګم
بی له کومه ځنډه
هغه تاییدوم:
هیله تاییدوم
کله چې پر بل ستوري فکر کوم
ځان ته وایم
هیڅ ناوخته نه دی
کوتره به والوزي
سوکان مي لکه ییوه هیله ټینګه ساتي
په دی هیله چي هر څه به بدل شي...

## د رڼا ډک باغونه

ستا غږ غنم او جوار وو
د بزګر لاس
پر مس
ډوډی او سکاره
د وخت او د لمر اولاد
ستا ترانه یو فلزي ګل و
د ولس فریاد
د زیارکښ په موټی کي وسله
او د شمال او سویل باد
ته د هغه زرګونو انسانانو سره ووژل شوی
کله چي درد وزیږید
زړه دي لور ډوله د ژوند سوروالی ته خلاص شو
او همدا وو چي خلکو ته وکرلي
د رڼا ډک باغونه یي
د مبارزي او میني نښه یي
ویکتور، ته به د چیلي سرود یی